محمد انور اخګر

۲۰۲۶/۰۸/۲۳

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(اته ویشتمه برخه)

## پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګاني(۲۴)

## د بېنظیر بوټو شخصیت

بېنظیر بوټو چي دوه ځله د پاکستان لومړی وزیره ټاکل شوي وه، لومړی ځل په ۱۹۸۸- ۱۹۸۰ او دویم ځل په ۱۹۹۳- ۱۹۹۶ز کي. نوموړې په اسلامي تاریخ کي د یو هېواد لومړنی ښځینه لومړی وزیره بلل کېږي. بېنظیر بوټو د شرق د لور په نوم هم یادیږي، هغې د انګلستان په اکسفورډ او د امریکا په هاروارډ پوهنتونونو کي په سیاسي علومو او حقوقو کي زده کړې ترسره کړې وې، دوه ټوکه کتابونه او ډېرې لیکني یې لیکلي دي. **(پخلاینه: اسلام، ډیموکراسي او لویدیځ)** او دویم کتاب یې د هغې د ژوندلیک:**(د ختیځ لور)** په نوم دی چي دواړه کتابونه په ډېرو نړیوالو ژبو ژباړل شوي دي.

بېنظیر بوټو، د ښه استعداد لرونکي، زړوره، مغروره او کبرجنه ښځه وه خو په ضمن کي یوه لوستي متقي، زړهسوانده او مهربانه مېرمن هم وه، هغې ویل چي «له ماشومتوبه مي له وینو تویولو کرکه کوله، یوه ورځ زمونږ د کور تر څنګ باغ ته ولاړم، ومي لیدل چي پلار مي زما وړور ته ښکار کول ورزده کوي چي **د ټوپک په یو ډز یې یو طوطي وویشت او لاندې په خپلو وینو کي لتپت راپرېوت نو هغه ته مي وژړل.**[1] تر دي چي مېرمن بوټو پر خپلو دښمنانو هم مهربانه وه چي یوه بېلګه یې کله «چي د جنرال ضیاء مېرمن مړه شوه او هغه مهال بېنظیره د پاکستان لومړی وزیره وه، هغې د پوځي برخي یو افسر ته وویل چي د جنرال ضیاالحق له زوی اعجازالحق سره په اړیکه کي شي او ویې پوښتي چي کومه اړتیا خو نه لري؟ یا کوم کار چي زمونږ په وس کي وي هغه ورته وکړو.

هغې دا هم وویل: له فیصل جومات پرته، که د ضیاء کورنی غواړي چي هغه په کوم یو بل ځای کي خاورو ته وسپاري نو د هغه په اړه یې هم وپوښتئ.

د پاکستان پیپلز پارټۍ ویاند فرحت الله بابر وایي: **دا ډول چلند له هغه چا سره چي د دې د پلار حکومت یې ړنګ کړی او تر مرګه یې رسولی ؤ، ډېره زړورتیا غواړي.**[2]

بېنظیر بوټو له خپلي کورنی سره د زړه مینه لرله خو د بېنظیرې منتقدینو ته د هغې د تخریب لپاره د خپلي مور نصرت بوټو او د هغې د وړور مرتضی بوټو سره د سیاسي وراثت پر سر د شخړې له

---

[1]: آزادی راډیو: ۱۳۸۶/۷/۲۸ل. ل

[2]:https://www.bbc.com/pashto/articles/ckgzjx3zkvyo



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

امله ښه پلمه په لاس ورغلي وه او هغه به يې تل تخريبوله. د بې‌نظيرې مور او ورور، پر بې‌نظير بوټو او د هغې پر ميړه آصف زرداري باندې د سياسي او مالي فساد له امله سختې نيوکې کولې چې د بوټو کورنۍ منتقدينو دغو اختلافاتو ته لمن ووهله، هغه وو چې د دغو تورونو له امله د پاکستان د وخت د **ولسمشر غلام اسحاق خان** لخوا په ۱۹۹۰ز. کال، د اګست په ۶مه نېټه د بې‌نظيرې حکومت ړنګ کړای شو.

بې‌نظيره چې په ۱۹۹۳ز. کال، د اکتوبر په ۸مه نېټه بيا د پاکستان لومړۍ وزيره وټاکل شوه نو ميرمرتضی بوټو هم هېواد ته راستون نو د بې‌نظيرې په مخالفت کې ودريد او د هغې مور نصرت بوټو هم له خپل زوی ملاتړ وکړ.

نصرت بوټو چې د پيپيپي ګوند مشره وه، کله چې د الزايمر په ناروغۍ اخته شوه نو بې‌نظيرې د ګوند مشري هم په غاړه واخيسته. د بوټو کورنۍ تر منځ شخړې رواني وې خو په ورستيو کې مرتضی بوټو له خپلې خور سره اړيکې ښې کړې وې.

بې‌نظير بوټو له خپل ورور سره پر اختلافاتو برسېره له خپلې کورنۍ سره مينه او خواخوږي لرله، فرحت الله بابر وايي چې يو ځل مرتضیٰ بوټو د يو ماشوم د زېږېدنې کاليزې په پار، د لومړۍ وزيرې کور ته راغی، کله چې له مراسمو وروسته مرتضی بوټو له کوره د وتلو په حال کې ؤ نو بی بي [بې‌نظير بوټو] په خپله تر دروازې پورې بدرګه کړ.



(بې‌نظير بوټو او د هغې مور نصرت بوټو د مير مرتضی د مرګ په وير کې)

وروسته له هغې چې مرتضی ولاړ نو (بی بي) ډېره خوشاله وه.

فرحت الله بابر زياتوي چې هغې [بې‌نظير] به ما ته تل (ايف بي) ويل خو هغه ورځ يې د خپلو پاريدلو احساساتو له زوره زما پوره نوم واخيست ويې ويل:**«او فرحت الله... زه نن ډېره خوشاله يم! ته باور کوې چې مرتضیٰ زما کور ته راغلی؟ موږ ډومره ښکلی ماښام تېر کړ!»**

**بيا يې لاسونه پورته کړل او دعا يې وکړه:«خدای دې يې له بد نظره وساتي.»**[3]

بل خوا د مير مرتضی بوټو لور، ليکواله، خبرياله او مدني فعاله، **(فاطمه بوټو)** پرته له دې چې اسناد او شواهد وړاندې کړي، د خپل پلار پر وژلو يې خپله ترور، بې‌نظير بوټو تورنه کړې ده، فاطمه بوټو په خپل کتاب **(د وينې او توري سندرې=Songs of Blood and Sword)** کې ليکي چې **پلار يې د بې‌نظير بوټو له خوا وژل شوی دی، ځکه چې د هغې په باور، بې‌نظيرې داسې فکر کاوه چې پاکستان د بوټو د کورنۍ، د دوو کسانو لپاره ډېر کوچنی دی.**

**فاطمه، بې‌نظيره يوه متکبره او ځان‌غوښتونکې ښځه معرفي کوي.**[4] دا د مرتضی بوټو د لور بې‌بنسټه تورونه دي چې د بې‌نظيرې غوندې په يوه زړه‌سوانده اومهربانه ميرمن يې پورې کړي دي.

---

[3]:https://www.bbc.com/pashto/articles/ckgzjx3zkvyo

[4]:https://jade-abresham.com/art-culture/literature/2333/



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

د مرتضی بوټو د وژل کیدو په ورځ، فرحت الله بابر د بې‌نظیر بوټو د حالت په اړه وايي چې «بې‌نظير له خپلې کورنۍ، مور پلار او ورونو سره بې‌ساري مينه درلوده، **هغه مهال چې بې‌نظير بوټو د پاکستان لومړۍ وزيره وه نو کله چې د خپل ورور مرتضی بوټو د وژلو له پېښې خبره شوه، په داسې حال کې روغتون ته ورسيده چې په يوه پښه کې يې چپل نه ؤ او پر سر يې لوپټه نه وه.»**[5]

سره له دې چې بې‌نظیر بوټو په غرب کې لوړې زده‌کړې کړې وې او هلته اوسيدلې وه چې طبعاً د غربي کلتور تر اغېز لاندې به راغلې وي خو بيا هم هغې تر يو ځايه خپله اسلامي ګروهه ساتلې وه، بې‌نظيره چې د تشيع مذهب لاروۍ وه نو پر مشهورو زيارتونو يې هم تکيه کوله، د مېرمن بې‌نظير بوټو ګروهه د هغې په ټاکنيز منشور کې په ښه توګه څرګنديږي چې وايي: اسلام زموږ عقيده ده، موږ ته اسلام د ورورولۍ، مينې او سولې درس راکوي، زموږ عقيده پر هر وګړي دا مسئوليت اچوي چې د زغم، تفاهم او منني په روحيه، له ټولو دينونو او مذهبي فرقو سره اړيکې وساتو، د هر دين د پيروانو درناوی وکړو، څو هغوی وکولای شي د مذهب د آزادۍ او د قانون پر وړاندې د برابرۍ له حق څخه برخمن شي.

د اسلام پيغام د سولې پيغام دی، دا د ورورولۍ او زغم پيغام دی، دغه ارزښتونه د **(داتا صاحب؛ شاه عبداللطيف بهټايي؛ بابا فريد ګنج شکر او لال شهباز قلندر)** په وېناوو او کلام کې په ښکلي توګه تمثيل شوي دي. صوفي بزرګانو د ساده ژوند او لوړو افکارو لار غوره کړې وه، اوس وخت رارسيدلی چې موږ هم هماغه لاره خپله کړو، هغوی نه يوازې، په خپله له زور او تاؤتريخوالي ډډه کوله، بلکې د زور کارولو تبليغ يې هم نه کاوه.[6]



فرحت الله بابر وايي چې بې‌نظيره د عادي ښځو په څېر په منظمه توګه د اولياوو زيارتونو او درباروڼو ته تلله.

بابر زياتوي:**«دا يوه ننداره يا سياسي چلول نه ؤ، هغه په ډير عقيدت او درناوي سره دغو زيارتونو او درباروڼو ته ورتلله.»**

خو د هغې ځينو منتقدينو بې‌نظير بوټو (چې په امريکا او بريتانيا کې يې زده کړې کړې وې) د اولياوو زيارتونو ته په منظمه توګه تلل د هغې لپاره يو ډول سپکاوی باله.

فرحت الله بابر يې په دوام وايي چې **بې‌نظير بوټو له الله (ج) څخه ويريدله او د ښو اخلاقولرونکي ښځه وه.**[7]

د بې‌نظير بوټو د دا ډول اخلاقو او ديني ګروهي عوامل د هغې د کورنۍ تربيې ښکارندويي کوي، کله چې نوموړې د لوړو زده‌کړو لپاره امريکا ته روانه وه نو پلار يې ذوالفقار علي بوټو، هغه د خپلو پلرونو مړيستنو ته بوتله، ورته ويې ښودل چې له ځان سره پام وکړې خپل دين، کلتور او مرګ هېر نه کړې،

[5]:https://www.bbc.com/pashto/articles/ckgzjx3zkvyo
[6]:https://bhutto.org/wp-content/uploads/2020/12/UN-Report-on-Mohtarma-Benazir-Bhuttos-Assassination.pdf
[7]:https://www.bbc.com/pashto/articles/ckgzjx3zkvyo


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

بېنظيره وايي چې زما پلار، د ۱۹۶۹ز. کال، لږ مخکې چې زه هارورډ پوهنتون ته د زده کړو لپاره ولاړه شم، زه يې دغه ځای [د خپلو مشرانو مړيستنو] ته راوستم، موږ چې د خپلو نيکونو د مړيستنو په منځ کې ولاړ وو، پلار مې راته وويل:«ته اوس امريکا ته ځې، ډېر لرې هېواد ته، هلته به ډېر داسې څه ووينې چې تا به حيرانه  کړي، داسې ځايونو ته به ولاړه شې چې تا يې نوم هم نه وي اورېدلی. **خو دا هېر نه کړئ چې له هر څه سره مخ کيږې، په پای کې به بېرته دغه ځای ته راستنيږې، ستا ځای همدا دی، ستا ريښې دلته دي، د لاړکانې خاوره، خته او تودوخه ستا په پوست او هډوکو کې اخښل شوي دي او په پای کې به همدلته خاورو ته وسپارل شې.»**[8]

دا وو د پاکستان د لومړۍ وزيرې بېنظير بوټو د ترور په تړاو څېرنيز مالومات. چې په همدې ځای کې د بېنظيرې په هکله خپلې څېړنې ته د پای ټکی ږدم او بېرته ورګرځو د جنرال مشرف په اړه پاتې څېړنې ته.




د پاکستان د پخوانۍ لومړۍ وزيرې، بېنظير بوټو او د هغې د کورنۍ مړيستونونه، د پاکستان د سيند ايالت د لاړکانې ولسوالۍ په (ګړي خدا بخش) کلي کې موقعيت لري، په دې مړيستونو (هديره) کې د بېنظير بوټو ترڅنګ د هغې پلار ذوالفقار علي بوټو او د کورنۍ نور غړي: مير مرتضی بوټو، شاهنواز بوټو، نصرت بوټو او نور ښخ شوي دي.

نېټه: ۱۴۰۵/۵/۱۵ل. ل

**نور بيا**
**نور بيا**

[د ښاغلي محمد انور اڅر نوري ليکنې په دې لينک کې ولولې.]

---

[8]: بېنظير بوټو، دختر شرق. فارسي ژباړه: عليرضا عياری. ۵۲مخ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ